Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

PROPERTY OF ARIC Established 1989

PROPERTY OF ACKU 7032

د ماښامو نو دیوه

د شعرونو مجموعه

نجیبه «سارا بیابانی»

کتاب : د ماښامونو ډیوه

شاعره : نجیبه سارا بیابانی

خپرونکی : مظفر شاه اپریدی

مهتمم : ډاکتر محمد اعظم اعظم

د چاپ ځای : د فرنټیر پوست اداره

د چاپ شمیر : ۱۰۰۰ ټوکه

د چاپ کال : ۱۹۹۷ عیسوی

بیه : (۳۰) کلداری

کمپوز او دیزاین : محمد ابراهیم «امیری»

پشتی : مکنون مقصودی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بیابانی په یاد

چه د لنډی مودی لپاره یی را سره د ژوند د یو خوږ ملګری په حیث ګام کیښود خو د وخت جابر قاضی پخپلی بی عدالتی د تل لپاره راڅخه بیل کړ او ده خپل خوږ ژوند دوطن او خلکو نه قربان کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

او د خپل خدای بښلی پلار په نامه چې
د لومړي ځل له پاره يې قلم په لاس کې راکړ

چې آغاز کې ليونتوب انجام به يې څه وي
په حيرت يم حقيقت مقام به څه وي

لنډه پیژندګلوی

نجیبه سارا بیابانی د خدای بښلی ښاغلي حضرت میر خان لور او د عبدالکریم خان لمسی ده په خټه ابراهیم خیله ده چه په کال ۱۹۶۳ ع کی د کابل ولایت د پغمان د ولسوالی د سینو بابا په کلی کی زیږدلی ده په کال ۱۹۸۲ ع رابعی بلخی دلیسی نه فارغه شوي ده چی د تحصیل په دوره کی ئي هم د رادیو افغانستان سره همکاری درلوده په کال ۱۹۸۸ ع کی د رادیو افغانستان په هنرو ادبیاتو کی د پردیو سریه کار په رسمی توګه پیل کړ چی د وخت د نامساعدو شرایطو په اساس له خپلو لوړو تحصیلاتو څخه دوه کاله محرومه پاتی شوه په همدی لړ کی لیکوالی او نطاقی هم کوله سارا برسیره پدی مصروفیت د فرهنګ مجلی او د قبایلو جرګی مجلی همکاره هم پاتی شوی ده په د ۱۹۷۳ کال نه را پدی خوا ئي په شعر ویلو نظم لیکلو پیل کړیدی چی تراوسه ئي په سونو شعرونه او نظمونه لیکلی دی سربیره پدی سارا اوس (۶) مجمعی شعرونه دوه مجمعی ازاده نظمونه یوه مجمعه د خپلی دایری نه ښکلی آدبی ملغلری دوه مجمعي لندی کیسی او دوه ناوله لری د

... Printing & Packaging Rawalpindi Ph: 73243

سارا یوه شعري مجمعه په ۱۹۹۲ کال د کابل په مطبعه کې چه د چاپ لاندي وه متاسفانه وسوزیده چه په همدی ۱۹۹۲ کال کی سارا پیښور ته راغله چه بیا په پیښور کی د پښتنو دوستانو په همکاري خپلی هلی ځلی پیل کړی سارا په پیښور کی د وحدت اخبار، هیواد اخبار او پامیر اخبار سره همکاری کړیده ددی په څنګ کی د پیښور په رادیو کی هم قلمی همکاری درلوده چه په ۱۹۹۳ کال کی د بی بی سی ایجوکیشنل ډرامو کی برخه واخیسته تراوسه پوری د لیکوالی په اړخ کی د بی بی سی سره قراردادی همکاری لری د ماښامونو ډیوه د سارا د شعرونو دا لومړنی مجمعه ده چی د فرنټیر پوست د ایدیتر ښاغلی مظفر شاه اپریدی په مرسته چاپ شوه همدا راز سارا په ډیر درناوی سره د محترم شاه صاحب نه مننه کوی او مونږ د سارا بی بی د نورو اثارو د چاپ کولو هیله لرو او ددی باهمتی پښتنی خور کامیابی غواړو.

د فرنټیر پوست اداراه

زړونو پرسوی لوئ صحرا وکری او پر سوی لوئ صحرا د شعرونو دداغلو غاړولو رنګین فصل را وټوکوی. زه شعر ته په یوه عجیب تقدس قایل یم، زه له شعر سره د عبادت تر سرحده مینه لرم، خو زه د شعرونو کره کتونکی نه یم، د سارا شعرونه به د شعرونو کره کتونکو ته پریږدو، هسې می هم نه غوښتل چی پر شعرونو یی نقد او کره کتنه وکړم، خو کله می چی د سارا د یوه شعر مقطع ولوسته له نقد او کره کتنی نه یی ډیوولری او غلی، غلی په څنګ تیر شوم.

دشعر مقطع داده :

که د سارا شعر ته غلط وایی څوك
هغه هم مینه په ګوهر نه لری

نه پوهیږم سارا خور به ګوهر په کوم مفهوم راوړی وی، ګوهر له قیمتی مرغلرویی سره سره له اوښکو، ښکلا، سپیڅلتیا او پاکی لپاره استعاره کیدای شی. همدارنګه د ښکلا الهه "دیونان د ښکلا ملکه وینوس" له ګوهر نه پیدا شوی ده.

له اوښکو، ښکلا، سپیڅلتیا او د ښکلا له الهی "وینوس" سره خو کرکه نه شی کیدای. مجبور یم چی د سارا شعرونو ته غلط و نه وایم او له "ګوهر" سره د مینی په خاطر یی له غلطو شعرونو سره هم ناکام وکړم.

مونږ له یوی لسیزی زیات عمر له ویروونکو تکو تورو شپو له بوږنوونکو غیر شاعرانه او غیر عاشقانه ماښامونو له ژوبلوونکو او

وژونکو رڼاګانو او لمبو سره تیر کړی او لایی تیرو. موږ په سلګونو غمجنی، ویښی او زخمی شپی د ډیوو، شمعو، ستورو، سپوږمیو او عاشقانه او شاعرانه رڼاګانو په ځای د باروتو، توپ، توغندی، د ماشیګڼو د ګولیو او دالوتکو د بمونو په جهنمی رڼاګانو (۱) او لمبو رڼا، سپینی او سوی لوی لیدلی دی. موږ په رڼاګانو هم شکمن یو. د ایران او د شعرونو د نړی ددیری مشهوری ځوانیمرګی شاعری فروغ (فرخزاد) په قول :

(زمونږ د ژوند دښته له تیارونه ډکه ده، هغلته لږی ډیر لږی د نور دوه ټکی معلومیږی خو کیدای شی چی هغه هم دلیوه سترګی وی).

خو موږ ګران لوستونکی له ویروونکو، ژوبلوونکو او وژونکو رڼاګانو پرځای لکه ناسوی پتنګان یوی شاعرانه، عاشقانه او غزلیزی رڼا ته رابولو. دا رڼا (دماښامونو ډیوه) یو ډیر ښکلی، عاشقانه، شاعرانه او غزلیزنوم دی چی ډیر می خوښ شو، حکه می خوښ شوی دی چی د ماښام د نوم په اوریدو می یوه غم انګیزه ښکلا په روح کی انځوره شوه. چی بیا ډیوه هم له ماښامونو سره غبرګه شی له یوی غم انګیزی ښکلا سره یوه بله زیږه انځوره غبرګه په غیږ شی داسی لکه د محبوب په تورو او پریشانو څڼو کی د نرګس د ګلونو غنچه.

خدای دی وکړي چی (دماښامونو ډیوه) د خپل نوم غوندی

ښکلی وی او د لوستونکو د ذوق پرماښامونو د زیړی رڼا غزلیز لاسونه راتیر کړی.

زه نه پوهیږم چی دا لیکنه د (سارا) دورکو او شهیدو شعرونو مرثیه وبولم او که د ژوندیو شعرونو د خپریدو مبارکی.

خپلی خبری د سارا د یوه غزل په څو بیتونو رانغاړم، د شعر مینه وال یی د شعرونو لوستلو ته رابولم :

ساقی نه ولی وچ ولاړ یی راته
دسترگو اوښکې دی پیاله خو نه ده
د نیمه خوا مینی کورگی دی په کی
بیلتونه مه راځه دیره خو نه ده
د زړگی کور کی می یو گل ښکاری
نامرده مه شکوه باغچه خو نه ده
د سارا د شعرونو د غوړیدو او ځلیدو په هیله
په پښتنه او شاعرانه مینه
کاروان

پیښور د ازاد افغانستان دلیکوالو ټولنه (وفا)

۱۳۷۵/٤/۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسارا د ماښامونو ډیوه

د پښتنو زنانه ؤ پ پحقله وئیلی شی چی دوی په فطری توگه شاعرانی وی دوی چی میچن ته ناستې وی نو هم یوه ټپه یا شعرئی په خله وی که گودر ته د اوبو د پاره ځی نو هم د گودر سره متعلقه ټپی یی بی ساخته له خولی وځې او که په نور څه کار کی مشغول وی نو هم مصری یا لنډۍ وایی. پدی وجه نقادانو د پښتو شاعری ابتداد ښځو پوری منسوب کړی ده دا ځکه داکترو ټپو او ځینو پخوانیو شعرونو مخاطبه د ښځی لخوا سړی ته شوی ده د مسافری او فراق تزکری د عشق و محبت شدید کیفیات او نور د غسی واردات سړی ته د ښځی لخوا بیان شوی نو په دغه وجه د شاعری شروع د ښځو برخه گڼلی شی.

د زنانه د کلام زړی نمونی دپټی خزانی د شپږو زنانه شاعرانو نه پس په روانه شلمه صدی کی ډیری موجودی دی شلمه صدی کی چی سیده بشرٰی بیگم (س .ب .ب) کومه شاعری کړی ده اوسنیو په کی ددی دور زنانه شاعرانو نوری فکری اوفنی اضافی کړی دی.

افغانستان کی هر څو که د تخلیق په ځای تحقیق ته زیاته توجه ورکړی شوی ده او د مخصوصو حالاتو ترمخه ګټهور تحقیقی کار شوی دی خو ولی بیا هم پکی شعر او افسانی او ادب لطیف په اضافو کی د اوچتی پائی ادب تخلیق شوی او په هغیـ کی د ښځو هم واضحه برخه ده.

په دغه قسمه شاعری ځینو ناقدانو دا تنقید هم کړی دی چی داقسمه شاعری کی تخیل او شعری نزاکت نه وی کوم چی د شعریت د پاره ډیر ضروری ده خو د سارا بی بی شاعری ددی قسمه شاعری بر عکس ددی په شاعری کی نخیل هم شته او شعری نزاکتونه هم او فنی ښکلاګانی هم سُرور او مستي هم شته.

رندی هم شته او شوخي هم دغه قسمه شاعری کې شعریت او تخیل په غټه پیمانه وی او دغه څیز د سارا په شعری مجموعه «د ماښامونو ډیوه» کی هم ښه پریمانه شته د تخیل او شعریت نه ډکه شاعري عموماً په صوری او تکنیکی لحاظ څه خو کمزوری هم لری خو دا قسمه تکنیکی او صوری لوازمات عموماً غزل د پاره لازمی ګڼلی شی او سارا د نظم شاعره ده پابند، ازاد، مصری او د ډاکتر زیار صاحب په اصطلاح سپین شعرونه یی هم لیکلی دی دا ازاد او مصرا نظم د رائج کیدلو په وخت ددی شدید مخالفت هم شوی وؤ چی پښتو کی ددی ځای نیول مشکل وی خو د وخت تیریدلو سره چی په شاعری کی چی رنګ رنګ تجربی او اضافی وشی نو دغه

قسمه نظمونو ته پښتو هم غاړه کیښوده او دا دی نن پکی د سارا غوندی پښتنی زنانه هم اضافې کوې د خوند خبره داده چی زنانه شاعرانو کی اکثرو ازاد نظم ته زیاته توجه کړی ده دا ازاد نظم که پښتانه مخالفت کوی او که موافقت خو رښتیا خبره داده چی د زمانی د بدلیدونکو حالاتو او په نړیوال ادب کې د فنې او فکرې جدتو نو ترمخه دا یو غټ ضرورت وؤ چی پښتو کی دې هم آزاد نظم رائج شي. دغو منشوری شاعری افغانستان کی ادبی ټوټی او پیښور کی ادب لطیف هم وئلی شوی دې افغانستان کی مرحوم عبدالحی حبیبی او موحوم گل باچا الفت د اقسمه ټوټی لیکلی دی او پیښور کې مرحوم راحت زاخیلې مرحوم دوست محمد کامل او مرحوم حمزهؒ بابا دا قسمه ادب لطیف تخلیق کړی دی او په ژوند کی د افغانستان داکتر زیار او محمد دین ژواك او پیښور کی د همیش خلیل ځینو لیکونو نه علاوه د هغه په افسانو هم دا مینه ماتیری.

دا سلسله اوس چی تر محترمی سارا بی بی راورسیده ځینی تجربی هم پکی وشوی په کومو چی د سارا بی بی نظر دی او د هغی په مناظرو کی یی خپلی ادبی یا هنری ټوټی تخلیق کړی دی په دغو ټوټو کی یی خوند هم شته او فکر هم او د ادب لطیف ښائسته نمونی دی؛

لکه دا دي سارا د ادب لطیف یوه نمونه

څومره مؤدبانه به می (تانه) ویل چی (تاسو) ستاسو جمله به می په هره خبره کی په ادب سره ویله چی تاسو څومره ښه انسان یاست خو په زړه کی به می ویل چی (ته) څومره راته گران یی.

او دایی هم د نظم نمونه

هر څه کیدای شی خو
هیڅکله داسی نشی کیدای
چی زه به ستایم
او ته به د بل
دا خیال دی
دا محال دی
د حقیقت نه لری
یو مجال دي
څکه چی مینه د عبادت نه کمه نده
او عبادت دروغ نشی کیدای ☰

سارا بیابانی د پښتو شعر په میدان کی یو نوی نوم دی خو د هغی د کلام د کتو نه پس په ورومبی نظر کی بنده دا محسوسه کړی چی هغی‌یو بشپړ علمی او ادبی پس منظر لري او د هغی شعری ذوق یو سپیځلی ذوق دي او د یو پاریدلې احساس میرمنه ده دا څیزونه د معیاری شاعری‌د پاره بنیادی موادو د لټون بنیادونه په ګتهٔ کوی پاتی شوه د شعر د جوړښت د هئیت او لباسی ښائست، نو هغه د وخت تیریدو او تجربی سره په خپله ځان برابر وی او پر مخ تګ کوی خو ولی دا به هم مناسبه وی چی خپلی شاعری ته د هغی دفن د خوبو سره د ځینو وړو وړو خامو ښودنه هم وکړی شی سارا د فکری او مضوعاتو په توګه د موجوده دور شاعره ده خو د بیان اندازه یی او د وینا (لیك) طرز په طرز یی د فولکوری (اولسی) شاعری اثرات څرګند دی. چی هغه په ازادو نظمونو کی خو څه معنی نه لری ولی په غزل یا په پابندو نظمونو کی د هغو پابندی لازمی شی دی او زه د سارا بی بی پام دی ته په خصوصی ډول راګرځول غوړام پهٔ مجموعی توګه د سارا شاعری د فکر او د تخیل په ډګر کې ډیره ښکلی او معنی خیزه شاعری ده د نوی وخت شعور سره سره د یو خاص قسم جدت او تازګی لری او د تولونه غټ صفت یی د الفاظو سادګی او د بیان بیساختګی ده او په داسی حال کې چی زمونږ په ادب کی د زنانه و برخه لاتراوسه ډیره کمه ده د سارا غوندی د بیدار ذهن لروونکو شریکوالی دم غنیمت دی. او

زمونږ د ادب په روښانه مستقبل باندی گواهی کې زما باور دی چی سارا که خپل شاعرانه صالاحیتونه په کار راوستل او د ادب مطالعه یی جاری وساتله نو د پښتو شاعری باغ باړی ته به سدا بهار گلونو پیرزوئنی ورکړی.

سارا چی د پستنو د روایاتو یوه پابنده پښتنه پاتی شوی ده او د ا خپل دستور د خپل تصور نه مقدم بولی او پښتنی حیاور باندی غالبه ده ځکه له پښتو دستور نه پخپل شعر کې داسی گیله کوی.

تصور راته تصویر شو په لیمو کی
خپی می بندی د پښتو په زنځیروکی
چی بنگری د سارا شرنگ کړی جتکه وخوری
چی مات نشی په دستور د پښتنو کی

داسی معلومیری چی سارا په سپین زړه سپینی خبری کوی او قاطع ځواب ورکوی او خپل غرور د پښتو ساتلو سره تړلی بولی لکه چی وایی:

که سل ځله زړه بڼه کړم چی ساقی نه د اجام واخلم،
خو پښتو کی یو پیاله ده جام نسکور دی پکی

په رستیا چی پښتنو میرمنو سره د حیا ساتنه د پښتو ساتنه ده او د دستور ساتنه د دوی دلوړو سرونو د غرور ساتنه ده لکه چی د سارا د دغه شعر نه څرگندیږی چی په کومه اندازه د پښتنی میرمنی

سره د خپلې حیا سوچ وی چی حتیٰ د قلم په ژبه یی د شعر په الفاضو کی بیانوی لکه چی وائی:

هم په کتو هم نه کتو کی مرمه
لکه ډیوه په ادیرو کی مرمه
ماته ستا مینه کی حیا رقیب شوه
ځکه دستور د پښتنو کی مرمه

او دائی هم د آدابی ټوټی بله نمونه

کله چی می هغه ستاسره اشنا کړ پوهیری؟
هغه ځما مینه وه
ځما د ټول عمر سرمایه
ځما ارزو
ځما اراده
ځما ژوند او ځما د ژوند کولو وسیله خو کله چی تا د خپل یره ګړی هوس د پاره له مانه پردی کړ
د ټول عمر له پاره راته پردی ښکاری
ته په نورو هوسونو کی ډوبه یی خو
زه دحسادت په اور کی د تل دپاره په هر چا بی اعتماده پاتی شوم.

دسارا په ادب لطیف یا ادبی ټوټی کې د ادب ډیری ملغری شته چی په پخپل یو سوچه شاعرانه تخیل یی امیل تری جوړ کړی دی.

او دائی هم د شعر یوه نمونه چی د مولانا رومی یا بلخی یو شعر یی پخپل روان قلم ژباړه کړی ده.

مولانا وائی:

بی همه گان به سر شود

بیتو به سر نمی شود

سارا وائی:

بیله هر چا په سر رسیږ

بیتا په سر نه رسیږ

ته خوږ دلبر ئی ځما

ځان او ځیگر ئی ځما

نورالبصر ئی ځما

شمس او قمر ئی ځما

بیله هر چا په سر رسیږ

بیتا په سر نه رسیږ

په پایږ کی د سارا د لاکامیابی په هیله

داکتر محمد اعظم اعظم پیسور پوهنتون

۲۱ اگست ۱۹۹۷

ستار په آواز راغی نغمو سره مستانه
زاهد په نڅا راغې ساقې ته ئی ویل جانانه
چی کړنګ یی د پیالو شو ساقی په نڅیدو شو
هر کنج د عبادت نه مست راغی شو دیوانه
څوک دوب په عبادت کی څوك لار د حقیقت کی
څوك غرق په تصوف کی څوك زلفو کی زولانه
یو مست په تماشی ؤ بل مست په میخانی ؤ
څوك ښکلی لکه شمعه څوك ړوند لکه پروانه
صوفي په طریقت کې مست ښکاری په حیرت کی
آسمان په ژړا سر شو هم ځمکه شوه لړزانه
هر پاڼه کی حکمت شو هر جام کی شریعت شو
چی پوه په حقیقت شو نادانه شو نادانه
یو ویل چی دا جنت دی بل وی چی محبت دی
ښکاره چی حقیقت شو افسانه شو افسانه
چا لاس کی وؤ جامونه چا خوله کی آزانونه
دا جاته شوه روښانه چی څوك شوله یکدانه
څوك غرق په عبادت کی څوك غرق په محبت کی
څوك خاندي په وصلت کی څوك تښتي له خندانه
یو نوم یی دلیلا کړ بل نوم یی د شیدا کړ
نوم لاړود مجنون شو قیس ورك شو له خپل حانه
سوزونه او سازونه معشوق ؤ مکیزونه
عاشق ؤ نیازونه ښکلا مینه یی شانه

یو ځای کې عارفان ؤ بل ځای کی عاشقان ؤ
تسبوح سره پیر راغلی مرید پروت په خمخانه
محمود په پاچایئ کې ایاز په غلامۍ کې
بهلول په ملنګۍ کې بیګانه شو بیګانه
حافظ لاړ خرابات ته سعدی لاړ مناجات ته
دا دواړه مقامات ته جانانه شوه جانانه
هم شمس او قمر دواړه په مینه شوه ترغاړه
مدهوشه سره واړه دیوانه شو دیوانه
راغلي له کعبی ؤ د ښکلو په وعدې ؤ
یو عشق ته په سجدی ؤ مستانه شو مستانه
ساقی لاس کې جامونه سر ګرم وؤ بزمونه
ټول ستوری په رقص راغلل سپوږمی شنه له خندانه
یو شمس شولو دیوانه بل بلخ کی شو مستانه
دا دواړه شوه افسانه پیمانه په پیمانه
یو خواجه عبدالله ؤ تل سوال کې له الله ؤ
منطق کې یی همتا ؤ دردانه شو دردانه
تلاش تلاش د ژوند ؤ په ژوند کی د عشق خوند ؤ
طبیعت کې یی هر رنك ؤ بیځانه شو له ځانه
چی ستوري شوهٔ راسکته آسمان شو ملامته
پرده یی په مخ راغله چی سرهٔ شوه له حیانه
څوک تللی ؤ کعبی ته څوک تللی میخانی ته
«سارا» ستا ارادی ته حیرانه شوه حیرانه

گل دی بهتر له ځان بهتر نه لری
د لاس آرا غیر له ساغر نه لری
بعضی وخت وینم خوشالي د دریاب
چی همیش دا صدف گوهر نه لری
په کلستان کی غنیمت گڼه وخت
بلی هفتی ته گل ثمر نه لري
د عاشق خواست گوره دمینی لارکې
بیله ژړانه بل هنر نه لري
که د معشوق په کور ځوك سر درون کړی
عجایب لار دہ مگر سر نه لري
که ځوك همدرس د محبت د درس شي
نایاب د عشق علم دفتر نه لري
په میخانه کې چی ځوك می خوري همیش
ښکلا د مخ یی هیڅ زیورنه لري
شیخه راپاڅه میخانی لوری ځه
هسی شراب گوره کوثر نه لري
هسی لعل گوره په زرین جام کې دی
که یی بیخي چاته هیح زرنه لري
ساقي شراب ته بی خماره راکړه
هغه چی ماته درد د سر نه لري

د خدای په نوم چی تن می هسی بت دی

چی بت خانه کې یی آزر نه لري

د زړه له کومی د سلطان بنده یم

په ما نظر که د چاکر نه لري

که د «سارا» شعر ته غلط وایي څوک

هغه هم مینه په گوهر نه لري

ما ویل زړه می دی ورکړی   ده ویل اور کې دی سیزلې
ما ویل څه وکړم عاشق شوم   ده ویل ځان دی کړولې
ما ویل پوه نه شوم ناپوه وم   ده ویل ژوند دې دی پلورلې
ما ویل اوس پسی ژړیږم   ویـــل ابـــداً ژړیـــدلـــې
ما ویل اوس می څوروی تل   ویل خوبانو رواج کړی
ما ویل کاشکی مرك یو دم وای   ده ویل ورو ورو دی منلې
ما ویل نور په نفس راغلم   ویل راځې نه یی راغلې
ما ویل څوك می چاره گر دی   ده ویل مرگ خو تښتیدلې
ما ویل چیرته به یی مونده کړم   ویل بیابان کی مجنون وړې

ما ویل زه «سارا» خو مرمه
ده ویل بند دی دی ترلې

چی زما په کور کی ستا قدم ولګید
په زخمی زړه کې اغزی سم ولګید
په دی مانا چی ژوند بدل شو زما
په ډیر غمو د میني غم ولګید
دا ډیر دردونه یی په شا واړول
چی خوږ آواز می د همدم ولګید
لکه چی ما سره یي رنحونه نیم کړل
هسی می سوچ کې دا صنم ولګید
«سارا» چی مینه دی دوکه نکړي نن
پس له کلو نه دي چی دم ولیګد

سترګی تاته نه ګوري کتی نه شي
ستا مینه حیا شوه غورېدی نه شي

شا او خوا پیره د رقیبانو ده
شونډي وچی شوي مسیدې نه شي

څله می رابولې خپلی غېږی ته
شرم د پښتو دی چی درتلای نه شي

ستا غوسه په مینه قبلومه زه
دا خو زما په مینه کی کمی نه شي

ښنده چی هوسی شي په دامونو کی
داد میني هوډ دی تښتیدی نه شي

تاته کیږجنه «سارا» ښکاري نن
ستا د عشق طوفان ته ټمیدی نه شي

لویه خبر ده وړه خو نه ده
تا ته ساده ښکاري ساده خو نه ده
آشنا مې ولې ما نه ږیږن دي رانه
وایه چې کړي یې ګیله خو نه ده
ساقي ته ولې وچ ولاړیې راته
دسترګو اوښکي دي پیاله خو نه ده
د نیمخوا میني کورګی دي پکی
بیلتونه مه راځه دیره خونه ده
چې د هر کور بله ډیوه مړه کوي
وایه صبا دي اندیښنه خو نه ده
ماسره ستا د بلې ورځې غم دي
تاته پلمهٔ ښکاري پلمه خو نه ده
د زړګی کور کې مې یو ګل ښکاري
نامرده میشکوه باغچه خو نه ده
«سارا» په ډاګه درته وایي واوره
د میني کار دی څه لانجه خو نه ده

۱۳۶۹/۱۰/۳

تصور راته تصویر شو په لیمو کی
خپی می بندی د پښتو په زنځیرو کی

عقل هوش می دادستور دی رانه وړی
که یی هر څومره خوندي کړم په بنو کی

هر ساعت چی د فلك ظالم له لاسه
د شفق بی رحمی وینمه پیالوکی

دا سرخي یی د شفق دوینو رنګ دی
کنی زیب کا چی داوی په اننګو کی

د ساقی لاس ته ناڅاپه سترګی واوړی
را په یاد شي ستا بیلتون په زولنو کی

چی بنکري د «سارا» شرنګ کړي جتکه وخوری
چی مات نشي په دستور د پښتنو کی

بیله هر چا په سر رسي
بیتا په سر نه رسي

شپه یم چی لمرنه رسي بیتا په سرنه رسي
ته خوږ دلبری ځما ځان او ځگر یی ځما
نور البصری ځما شمس او قمر یی ځما

بیله هر چا په سر رسي
بیتا په سر نه رسي

* * *

ته ځما خواب وخوریی ته ځما راحت بستر یی
ته ځما ویښ سحر یی ځما سر تاج سرور یی

بیله هر چا په سر رسي
بیتا په سر نه رسي

* * *

باغ حرم می ته یی زړه ته بیغم می ته یی
داغ ته مرحم می ته یی محبوب صنم می ته یی

بیله هر چا په سر رسي
بیتا په سر نه رسي

* * *

که نه یی غم لرم یو لوی ماتم لرم
سترگو کی نم لرم دروغ چی صنم لرم

بیله هر چا په سر رسي
بیتا په سر نه رسي

* * *

ځما جنت ته یی ځما محبت ته یی
ځما کرامت ته یی ځما همت ته یی
بیله هر چا په سر رسي
بیتا په سر نه رسي
* * *

دم او قدم می ته یی د خیال همدم می ته یی
ښادي او غم می ته یی خوله کې هردم می ته یی
بیله هر چا په سر رسي
بیتا په سر نه رسي
* * *

سترګو ته نور شوی ته زړه ته سرور شوی ته
روح په مرور شوی ته ځان ته ضرور شوی ته
بیله هر چا په سر رسي
بیتا په سر نه رسي
* * *

ځما شباب شولی دعشق کتاب شولی
جهان ته تاب شولی ماته عتاب شولي
بیله هر چا په سر رسي
بیتا په سر نه رسي
* * *

ته د ظلمت نښه یی د عدالت نښه یی
ته د غفلت نښه یی د عبادت نښه یی
بیله هرچا په سر رسي
بیتا په سرنه رسي
* * *

ځما هر څه یی ته هم بد هم ښه یی ته
اختیار کې نه یی ته ځما په څه یی ته
بیله رچا په سر رسي
بیتا په سر نه رسي
* * *

ځما ثمرته یی آب کوثر ته یی
ژوند ته می زر ته یی کور ته می لمر ته یی
بیله هرچا په سر رسي
بیتا په سر نه رسي
* * *

وصل ته باغ ته یی هجران کی داغ ته یی
روح ته فراغ ته یی فکر او ددماغ ته یی
بیه هر چا په سر رسي
بیتا په سر نه رسي
* * *

شمس شه رڼا غواړم خپله دنیا غواړم
تا غواړم تا غواړم تاته «سارا غواړم
بیله هر چاپه سر رسي
بیتا په سر نه رسي
* * *
٦/١٠/١٣٦٦

په کومو سترګو چې تا ماته کتل

ما به هغو سترګو کې تاته کتل

ولې د زړه په حال واقف نه شولې

پیوند د سترګو ؤ تا چاته کتل

ما د رقیب له ویرې ځان غولا وه

تاولې هو ځما یاناته کتل

دلته رموز ؤ ته غصه شوې ولې؟

په رمازه کې تا سلاته کتل

زه نه پوهیږم که ته ډیر پوهیږې

منم چې ډوب وې ما حیاته کتل

ښښتنې سترګې مې وې ځکه ټیټې

ما معاشرې ته تا«سارا» ته کتل

۱۱/۱۲/۱۹۹۳

مینه د یار می شوه غم غم غم
رقیب می وژنی هر دم دم دم
بیله تا یاره خپل ځان څه کوم
ځان لاته پریږده جهان څه کوم
بی له تا ژوند شو ماتم تم تم
ستا په مینه کی لیونۍ ومه زه
اور د محبت کی سپیلنۍ ومه زه
سترګو نه می اوښکی ځي نم نم نم
اوښکی می بهیږي بهیږي تل
زړه چی می کړیږی کړیږی تل
عمر د سارا شولو کم کم کم
رقیب می وژنی هر دم دم دم

ستا په وصال کې چې هجران وينمه
لکه سپرلي کې چې خزان وينمه
هسې ښکاريږي چې جهان خفه دی
چې می خفه د زړه آرمان وينمه
يو سپيلنې رانه جوړې شوې اورکې
چې دی د مينې ډيرګلان وينمه
زه سرګردانه پخپل ګل پسې يم
تاته چې ګورم خپل جانان وينمه
له مانه ورك دی چيرته يې ولټوم
هر خواته ګورمه زندان وينمه
زما مذهب کې خو يوه مينه ده
که داسې نوې ډير شيان وينمه
سارا په دی آزمون بری اخلمه
زه خپل مجنون په بياباڼ وينمه

سترگو ته دی ووایه چی ماته کتل مه کوه
دی لوړو ژوروکې مزل ته تکل مه کوه
دا چی خندول یی گران ژړل ورته آسانه دي
سوچ ته یی خزانه په سپرلي کې راتلل مه کوه
نه به شي څما ستا دنیا بیله څما بیله ده
ما سره بی وخته په هر لارکې مزل مه کوه
دردېکی نڅا کوي په سوز اوسازکی ژوند څما
مه خوره چورلکونه ته غورځنک په یو پل مه کوه
زه په یو نازك تار د خپل ذهن تړل شوی یم
ستړی به شی پریږده پرې گران دی تړل مه کوه
زه په ډیر وروکي لفظ ڼځلور ټکو ژوندون کوم
لور نظر دی خپل که د سارا پېی وژل مه کوه
ستا یه یاد

هغه چی ته به راشی زه به نه یم
که یم خو هسی، د کاته به نه یم

یا به ړنده له دی جهانه یمه
یا به لوېدلی لمرخاته به نه یم

دغه چی اوس دی انتظار باسمه
داسی به ته یی او دا زه به نه یم

له ځان سره به کله کله وایی
کاشکی چی ته وای همدا ته به نه یم

هسی «سارا» سره هجران انتظار
دواړه یوشوی نو خسته به نه یم؟

کرځم میخانو کې خرابو کې د رندانو
اوس یم تړل شوی په زنځیر د میخوارانو

نور می د شیخی له زاهدی نه په توبوتوبه
ورکه یی کړه لار لاړو په لار د ګمراهانو

باسم انتظار که ساقي راکي جام د میو
وبه یی خسلم په سرو لبو په خیال کی د چشمانو

څومره به ژړیږم په هجران کی نه پوهیرم
کله به د وصل غړه په ماوشي یارانو

ستا د عشق په نوم چه حقیقت کی لیونی شومه
خیر سارا امید کړه په احمد د مینانو

کاشکی ما نه وای لیدلای
غړه می نه وای اوریدلای
ورنه . لری لری تللای
چه له ده نه ورکیدلای
پته مینه می ساتلای
هیچا هیچا نه لیدلای
زړه می تور شولو له مینی
چی له مینی تستیدلای
یوه زه وای یو جونګړه
چی ستا غم می نه لیدلای
نه دی غم وای نه دی درد وای
نه هجران چی ځوریدلای
کاشکی لری وای له غمه
نه بیلتون کې کړیدلای
د ځوانی عمر خزان شو
«سارا» ژوند دی دهجران شو

ما د عمرونو حقیقت واخیست
تا رانه لاس په دی ساعت واخیست

ما ویل چی څومره به اوږده شی مینه
څومره دی ژر رانه رخصت واخیست

په بزدلی دې راته زړه پریښوده
په ناکامی دی فراغت واخیست

څومره دی ډیری واسطی کړی پیدا
زه چی راضي شوم تا مهلت واخیست

یو تجربه می بله زیاته شوله
چی ورو قدم کې دی سرعت واخیست

بیام ته استاد څما د وفا شوی ثابت
ځکه قلم نه مي فرصت واخیست

که می سوزونه په سازو شوه بدل
خو ستاله مینی می عبرت واخیست

زړه خو می نشته بیا بئ چاته ورکم
نن می بی زړه ځانته نهضت واخیست

یوسف به خلاص دمجبوری له ژوند شي
که له عزیز نه یی عداوت واخیست

اوس خود مصر په کوڅو کی غږ دی
چی زلیخا عشق کی تهمت واخیست

نه به ښایسته یوسف نه عشق شي پیدا
خو ما «سارا» تری صداقت واخیست

۲۶/۱۲/۹۵

غم د جانان می په گیلو کله ځي
د هجر داغ می په سلگو کله ځي

ساقي ته راوړه لږ شراب د مینی
د بیلتانه درد په نیشو کله ځي

په میکده کې که سر ننباسم
ځان غولول په میکدو کله ځي

د سترگو جام می ستا یادیږي گله
هغه نشه می په خوبو کله ځي

هسی درد زه چی بی درمانه لرم
په دا داروو او دمو کله ځي

که د سارا روح ته راحت غواړی څوك
د «سارا» روح بی له لیدو کله ځي

۱۶/۶/۱۳۶۶

مه ځه چې تا پسې ژړېږمه | تم شه چې تا سره لوبېږمه
هېلې مې زړه ته سلسلې جوړوي | پوره کیدو ته یې هوسېږمه
د مینې ګل په مسیدو ښکاري | خزان ته یې مه پرېږده مړه کیږمه
ته چې لماځې زه بیتا څه وکم | خیال کې هجران سره کړېږمه
پدې خو پوښه جدایي دوزخ دی | اوس په دنیا پکې سوزېږمه
تا چې ځما له کلي کډه وکړه | روح مې له تن ځې روانیږمه
پدې وران کلي کې به څوک واوسې | چې بیله تا به زه اوسیږمه

تا سره روح ځما له تنه ځي نن
که لاړشي زه سارا ورکیږمه

۱/۳/۱۳۶۲

PROPERTY OF ACKU 7032

کاشکی لیونی واي چي دنیا نه بی پروا وای
گرځیدی په غروکي یو موجوده د صحرا وای

نه می کور او کلی پیژندلی نه د خلکو وای
نه می وچ لامده لیدی په سترگو نابینا وای

نه د چا په غم کی وای نه ځا غم د چا زړه کي
نه د چا قفس کي اوسیدلي نه رها وای

یا خو چی ډیوه د ماښامونو د شاعر وای زه
یا د ماښام سترگه په آسمان کي یا صبا وای

ژوندکی می اختیاروای لکه بوټی په صحراکي شین
هر څه چی راتلل په ما زغمل می د بیدیا وای

کاشکی لیونی وای چی انسان سره می غم نه وای
نه د بیلتانه ژړا نه هجر د «سارا» وای

ما ویل ای شمعی دا ولی هسی ژړای
دي ویل نه گوری چی ورو ورو تته کیږم

ما ویل ولی دی خندا په رڼا پلوری
دي ویل صبر چی پتنگ ویلی کړیږم

ما ویل ولی بیا قاتله د خپل یار شوی
دی ویل مینه چی یوه شی محوه کیږم

ما ویل دا څنکه دنیا ده ستا د مینی
دی ویل زه خپلی دنیا ته رڼا کیږم

ما ویل ستا خپلی دنیا کې پتنگ شته دی
دی ویل هوزه هم هغه ته هوسیږم

ما ویل بیا به هلته څه ورسره وکړی
دی ویل ژوند مو سره یو دی خوشحالیږم

ما ویل دا څنگه فنا څنکه بقا ده
دی ویل زه هم په حیرت یم نه پوهیږم

ما ویل ماتم د نارام روح آرام راکړه
دی ویل زه هم د «سارا» ژوند ته ژړیږم

یو شمع می تصور کې ستا د مینی کړلو بل
رڼا یی کائیناتو کی خوره شوه په یو ځل
په ستورو کی خوره شوه تماشا زما د مینی
یو زه شوم وفا داره چی جهان راته کتل
جونګړه می د سین په غاړه جوړه کړه ځنګله کې
رڼا کې د سپورمی می ښکلي مخ لید لکه ګل
غذا می وه ستا مینه او اوبه می خپلی اوښکی
عجیبه فلسفه کې چورلیدم لکه بلبل
دنیا می وه رنګینه په وسوزونو او سازونو
یو ژوند ؤچی دسین څپوکی وروسته وړاندی تلل
دا ته وی او که ژوند ؤ راته خوږ چی ټول جهان شو
خواږه ترخه می خوښ شوه هم ژړل هم می خندل
زه تا پسی روانه مرګی ما پسي روان
په دی مقابله کی زده کړه ما دغم زغمل
د سین هره څپه راته د تیر ژوند افسانه شوه
ورمه وریسی راغله ویل امید کړه په ازل
نغمی وی د مرغانو عظمتونه وو دغرونو
د ونو مقامونه په هر پاڼه یی لیکل
تیر شوي په دوی باندی خزانونه بهارونه
سبق یی ماته راکړو سوز او سازکی پایدل

عجیبه فلسفه ده هسی نوم ئی دی ستا مینه
که څوك پکی اوسیږی که راځی او که تری تلل

که غم دی که ښادي ده یو تلاش د محبت دی
ژړا ده که خندا ده ورکول که راکول

دا بحر دی بهیږی زما او ستا د مینی کور دی
زه ژاړم درنه غواړم په دی غاړه یو محل

تا زما د ضد دپاره محل جوړ په افسانه کړ
ستا مینی داسی یوړم چی ستا غیر شوه تاج محل

آواز د سین د غرو په انعکاس کی راغی غوږته
چپه را باندی راغله او په مایی وخندل

ویل تیردی کړه دیرش کاله دری دپاسه لاهوس کړی
راپاڅه مازدیگر دی بلبل تا باندي ژړل

«سارا» په صحرا سرشوه خو منزل یی دی ورك کړی
قدرت ته په حیرت شوه چی دا څنگه جوړول

چې تصور کې مې دنیا جوړیدی
څومره به ښه وای چې رښتیا جوړیدی

هره لمحه مې په تور تم د بیلتون
په انتظار که مې صبا جوړیدی

څما تخلیق عجیب قانون جوړکړی
چې په ژړا کې یې خندا جوړیدی

ما به له خلکو نه تل پټ ساتلی
که مې په وسه کې همدا جوړیدی

لمر او سپوږمۍ به ستا حسرت خوړلو
د زړه په کور که مې رڼا جوړیدی

د سیند څپو سره به تل خندیدی
که په ځنګلو کې مې پناه جوړیدی

ستورو به څما په لمن سر ایښودی
که مې خالونه په سیما جوړیدی

چا به د چانه ګیله نه کولی
که په رښتیا ژوند د «سارا» جوړیدی

په زړکی دی   ده مینه که سور اور دی پکی
چی سترګو ته دی ګورمه یو شور دی پکی

چی تا ته یی ثابته کړم نو سترګو ته می ګوره
ته، ګوره   چی د چا سکلی انځور دی پکی

په   مینه   راته   ګوره   بانه   ونه   ځمبوۍ
شي وران به چی زما د مینی کور دی پکی

پوهیرم چی می بخت د غم سیلی په څپو یوړ
څه وکړمه ناترس بیلتون یو زور دی پکی

خبره د هر کس ناکس که وړم نه می خوښیږی
نو ځکه چی له مینی می زړه تور دی پکی

دا ستا مینه می خوښه ده والله که ته پوهیری
له تانه که یی غواړم خو پیغور دی پکی

که سل ځله زړه ښه کم چی ساقی نه دا جام واخلم
پښتو کی یو پیاله ده جام نسکور دی پکی

ستا مینه لیونۍ ده او که زه یی لیونۍ کړم
«سارا» ستا پاکه مینه هسی پور دی پکی

نن می ستا سترګو کی نشه ولیده
خدایږو نشه مي پښتنه ولیده

چی تنکی مینی پکي کور جوړ کړی
نن مي ها کور کې میکده ولیده

څومره خپه شوم چی پری پوه نشومه
چی می ستا سترګو کی پیاله ولیده

ما په تندی باندي خال تاته کیښود
تا ویل چی ما پکې کعبه ولیده

په زړه کی دار په سترګو ګورمه درته
ښه شوه چی خوله کې می توبه ولیده

ساغر می راوړلو چی مات یی نه کړي
«سارا» ستا سترکو کې بانه ولیده

ستا په یاد

چې پیدا شومه زنده شوم بیا اسیره د بنده شوم
لاس او خپې مې دي تړلي په سرو سترګو مې ژړلي
زړه ګوګل کي کړیدلي
له غمازه ژړیدلي
ژبه ګونګه شوه په خوله کې غوږ مې کوڼ شو په هرپله کې
یا کوچیږ د دامانو وای چې کړدی مې په دښتو وای
یا شاهین د هسکو غرو وای
یا په غاړه د رودو وای
یا هوسیږ د دامانو وای یا طوطی د شنو باغو وای
یا زیړ ځوان د پښتنو وای یا وحشی دښو ځنګلو وای
پښتنه پیغله وای ناسته
تور پیکی مې وای آراسته
پاك شپونکي سره مې ژوند وای چې مې هلته د ژوند خوند وای
چې حفستلی مې په غره کی پاکه مینه مې په زړه کی
دا بی سره مې غږ وای
در مو مې راته بږوای
د ماښام په آذانو کې راروانه په ځنګلو کی
دانګ په لاس تن کی کوسۍ وای
پټ په خوله کې ګونګوسۍ وای

ورو ورو تلی د کږدی لورته　　یا جونګړی ته یا کورته
راختلی چی سپوږمی وای　　د مابنام په ګوله ګی وای
چی له لری می په غوږ وای　　د شپونکي د شپیلۍ غږ وای
پوه به نه شی په بل خوند　　څومره خوند کړی آزاد ژوند

څومره خوند پخپل زړه ژوند کړي
د «سارا» ژوند به څه خوند کړي

ستا د يادونو سره لوبي کوم
د غم خيالونو سره لوبي کوم

کله چې وران ګور د آشنا وينمه
هاسات غمونو سره لوبی کوم

زړه چې را تنک شی تنې وسپرمه
د پرهرونو سره لوبي کوم

کله ستا مينه خندوی می خيال کی
کله وختونو سره لوبي کوم

وختونه څرنکه په بيړه تير شول
چې د سوچونو سره لوبي کوم

چې زنګوی می د بيلتون غيږه کی
ستا د ياالونو سره لوبي کوم

دغه دردونه له «سارا» نه نه حي
چې له دردونو سره لوبي کوم

هغه چې زه يې هر زمان وخوړم
چاته به وايم چې جانان وخوړم

له ځواني مخکې چا زړتوب ليدلی
مخکې له وصله دي هجران وخوړم

خلك دي ډير دي دجنت په تمه
زه دي دوزخ په دي جهان وخوړم

زه دي ګلونه د سپرلي څه کوم
چې په سپرلي کي دي خزان وخوړم

ستا د خزان خبر سپرلي کې راغی
ستا د ليدو تږي ارمان وخوړم

زه دي ديدن په تمه تمه ناسته
په انتظار کې دي زمان وخوړم

هغه سات رانغی چې ته به راشی
«سارا» امید کې زړه نادان وخوړم

هم په کتو هم نه کتو کې مرمه
لکه ډیوه په ادیرو کې مرمه

ماته ستا مینه کی حیا رقیب شوه
ځکه دستور د پښتنو کې مرمه

په پسرلي کې می خزان لټوم
بیلتونه ستا په ناکردو کې مرمه

د مینی غږ، خوبي په مینه اورم
چی ورتلی نه شم حسرتو کې مرمه

چی می د خیال په غیږ، کی ټنگه نیسې
د طوفانی میني څپو کې مرمه

«سارا» له لری نه ستا مینه سوزي
ځکه نژدي خو په نشو کې مرمه

چې پیدا په دې دنیا شوم ځنکه درد سره آشنا شوم
له ازله مې دا برخه چې دا ستا په مشغولا شوم

د پاپل اول قدم کې محبت سره یکتا شوم
په دویم قدم ستا لور ته د هر چا ځخه سیوا شوم

په دریم قدم دعشق کې په لټون کې د وفا شوم
ځلورم قدم مې دا ؤ د هجران نه په ژړا شوم

په پنځم قدم له هر چا بیگانه په دې دنیا شوم
په شپږم قدم د وصل د یو شپې په تمنا شوم

چې په اووم قدم داخل شوم د سبو بدو نه جدا شوم
په اتم قدم مې سترگې انتظار د دورنما شوم

په نهم قدم بې هوشه او بې خوبه تر سبا شوم
په لسم قدم آرمان کې دیو ستورې په ثنا شوم

چې دلسو نه یو زیات شو د یوه نوم په وینا شوم
دوولسم کې چې داخل شوم خپل هدف ته با وفا شوم

لوی دفتر مې ځانته جوړ کړ چې روانه په بیدیا شوم
پخپل خیال کې گرځیدمه چې له هر شي نه سیوا شوم

په تعليم دعشق سينګار شوم
خال او خط کې يې زيبا شوم
چې مې خوند د هجران وليد
نور له هر شي بې پروا شوم

چې دميني درس مې ولوست
په تقدير باندې عالي شوم
چې د عشق څپيره راغله
زما په مخ مخ په يکتا شوم

په کچکول دقناعت کې
د دادرست جهان پادشاه شوم
زه د خپل خيال په جونګړه
د بې زړونو شاهنشاه شوم

د زرګونو غم د پاسه
هم بامهر هم با وفا شوم
د خپل خيال په هوا لاړم
چې په ټول جهان رسوا شوم

ژوند مې ټول شو مينه مينه
باوفا تاته «سارا» شوم

ستا يه ياد

يه قلمه څه دي زړه کې دي اوس وايه !
د جانان د مخ ډيوه راته ښه ستايه !
ته تسکين زما د قلم زړکی شه
ښی خوږی خوږی خبری راته ښايه !
چی په ژمنه او وفا پاندی ولاړ دی
د هغه آشنا په مينه راکه رايه !
هيڅ تاثر دا نصيحت د ناصح نه کړي
ځکه شيخ دزمانی شولو بد رايه

يه قلمه ! ته همراز شوي تسل راکړه
«سارا» اوري ورته ووايه له ورايه !

تیر دی څه په زړه کې شول آشنا راته
درځ چې می په زړه کی شولو بیا راته

سترکی دي خُواب راته ښکاره وایی
زما سترګو کې سوال ډیر شولو بیا راته

شین آسمان کی وریځ د باران نه ښکاری
دا ځلی به نه اوری رښتیا راته

ډکه پیمانه که بیا چپه شوله
مات به شي ساغر په دي دنیا راته

عشق خو بهانه راته د مرګ ښکاری
وایی جهان خوشی کړه «سارا» راته.

سحرگه وه د شبنم اوښکی باران وي
راتوی شوي د گلرخ په زنخدان وي

ما ویل څه دي اوریدلي چې ژړېږی
ده ویل هی افسوس عاشق یی خو نادان وي

په حیرت یم چې ما ولي تپوس وکړ
زما خواب کې چې بی صبره افسوس وکړ

پوه شوم زه چې «سارا» عمر دی برباد کړ
چې عاشق دی په تپوس باندی ناښاد کړ

سترگی په وره کې انتظار لرم
لکه په ګلو کې چی خار لرم

دومره الفت باندی دی څه وکمه
چی تصور ته دی تلوار لرم

چی دی لیدوته هوسیږم څومره
همره وصال ته پټ اسرار لرم

پلوشه ستورو نه په شپه کی ډك کم
سبا په وریځ آسمان بیمار لرم

مینی دی مانه زلیخا جوړه کړه
کچکول په لاس سترګی په لار لرم

کنعانی مینی دی بی واکه کړمه
اوس د یو آه سره انګار لرم

صبر به څنکه ته «سارا» ته ورکړی
زه پخپل مینی اعتبار لرم

ستا به یاد

چی تصور کی دی تصویر ته یو نظر شم آشنا
لکه قدم چی بی اختیاره ږدم ابتر شم آشنا

څوك به دشمن شغلو ته وګوري په هسکو سترګو
بغیر له دی چی دی هم نوعه لکه لمر شم آشنا

تا کله هم په آئینه کې خپل جمال لیدلی ؟
چی ته سیلی شی راته خود به در په در شم آشنا

زما په سترکو کی ماښام د غریبانو ستوری
ورك به شی ستا رڼا ده ډیره ځنکه درشم آشنا

مقام دی مه ټیټوه لاس لږ د امداد را که
دومره می پوی کړه چی خبر په سر او بر شم آشنا

هر غم او درد جهان رنګین جمال رنګین وینمه
څومره ښکلا دطبیعت .ده که خبر شم آشنا

لږ شان می پوی کړه چی عذاب د تنهایی وزغمم
دوزخ به ښه وی که وصال سره دی در شم آشنا

په دی کم زوري انسان نور لاڅه ستم کوی ته
«سارا» لږ پریږده چی پردیٔ نه در بهر شم آشنا

خوار شی رقیبه څه دی ښه جوړه کړه
په نوم د اجر دي بانه جوړه کړه

ستا خو هدف د خپل ذاتی ګټی ؤ
پکی دی څما نوم پښتنه جوړه کړه

دزره په کور کې می یو کور د مینی
تا د بیلتون پکی دیره جوړه کړه

تا د پښتو د جهالت په نامه
ماته د عمر اندیښنه جوړه کړه

ګله حیا کله یی دود او دستور
ښه په شریکه دي پلمه جوړه کړه

رقیبه وسوزی ایره شې
ماته دی ټول عمر لانجه جوړه کړه

وسوه «سارا» د روایاتو په اور
ماښام بیلتون ترینه ډیوه جوړه کړه

د زړه فیصله داده چې ګیلو ته به درځم
هجران یمه څپلی فریادو ته به درځم

بغیر له رقیبا نومې پیره په لاره نشته
تکل د مینی هوډ دې چې کیسو ته به درځم

ایرو کی یو سپرغی یمه لمبو کی نه ځایږم
اوس جوړه که لمبه شومه لمبو ته به درځم

کاروان د منزلونو شوم روانه یم په مخه
شوګیر بی خوبه کړې یم خوبو ته به درځم

پوهیږم رسیدو ته می د مینی لار اوږده ده
ستا مینه بدرګه شوه پسرلو ته به درځم

«سارا» دوخت قاضي چې په تازه [illegible] نه دی خوږ کړی
ګیله به له چانګړی خو میلوته به درځم

تاته خو په سترګو کې بل چا غمونه ایښي دي
ماته خو همتا په زړه کې سخت داغونه ایښي دي

اوس خویم حیرانه ستا علاج که خپل علاج وکړم
ماته خو علاج کي خپل آشنا دامونه ایښي دي

ماته خو دا مینه په آغاز او ختمیدو شوله
ځکه چې پښتو دا ناروا دودونه ایښي دي

اوس ترې اووښتې نشم که واوړم لیونو سره
هسې خویې ماته د ژوندون دردونه ایښي دي

پریږده چې یاغي مې دغه مینه ترقیامته شي
ځکه بې انصافو ورته دا قیدونه ایښي دي

هر کړې مې خولې ته یوه آه بله لمبه ګرځي
دې بله لمبه کې یې عجیب سازونه ایښي دي

څومره بندیزونه د اشنا مینه کې وینمه
دا آغاز «شارا» انجام کې څه سوچونه ایښي دي

سترگو می رنگ واخیست دتورو شپونه
ستا د وصلت د انتظار لمحونه

تا د صبا په امید قتل کرمه
لکه شبنم څاڅم د گل خوش بونه

لکه تور داغ د غاټول زړه کې ښکاري
دا غلی زړه ژاړی دا ستا د تلونه

د خزان رنگ زیړه گونه کې ښکاري
دا وچی پاڼی د بیلتون راتلونه

پریشانی زلفی د ماښام نښه ده
د ډیوې اوښکه ده د لمر لویدونه

د «سارا» زړه د ماښامونو ډیوی
تاته ژړیږی، شومه دم دردوونه

آ

هسی غمونه راته ستا پاتی شول
چی می دا غونه د آشنا پاتی شول
زړه می نری نری خوږیږي یاره
چی آرمانونه راته بیا پاتی شول
چی تیر وختونه دی آشنا یادوم
د بیلتانه دردونه ځما پاتی شول
تیر پسرلی به بیا په خوب وینی
دا امیدونه د دنیا پاتی شول
څومره دی غم څومره دی درد دی گله
چی دغه ټول راته «سارا» پاتی شول

نه چی په زړه کې دی څه بیا ښکاري

د قلم ژبه په وینا ښکاري

څه دي پټ کړي دي په ډاګه یی وایه

ګرځی ککوکی دی ژړا ښکاري

دسترګو کسي می ستا کور شو ګله

ځله دی سترګو ویل چی دا ښکاري

اوس به بانه راته په څه کوی ته

چی دغه توله ستا ادا ښکاري

دا سلسلی د مینی ځله ځیړی

په دا رمزونو کی خو ستا ښکاري

خیال کی کیسی د مینی اورمه نن

نه چی جفا راته وفا ښکاری

بس دی بیلتون سره نور پریکړه وکړه

نن په موسکا درته «سارا» ښکاري

چی له حیا پر ما خولی راځی
ته راته وایی چی ولی راځی؟
لکه شبنم چی په ګلونو اوری
دا ستا له خوا پما وږمی راځي
حیرت می یوسي بل جهان ته ګله
چی ستا د مینی ولولی راځی
چی د لاسو زنحیر چاپیر شي له ما
خولی ته بی واره می ګیلی راځي
چی ستا د غیږی سمندر می یوسي
سارا ته هیلو کي لانجی راځی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا می دا ماشوم زړکی ژړیږی نن
ناز کوي،مياز بين غواړي کړيږي نن

تش ګوګل کی غورځي په ترپکو دی
یار پسی سلګی وهي زوریږي نن

غواړي بی وفا آشنا چی تللی دی
هر خوا لالهناد پسی ګرځیږی نن

ژاړی هوسیږي آرماني ښکاري
ډوب په سمندر کی معلومیږي نن

ویښه به وي پاتی تر سهاره نن
ډیوه دماښامونو می مړه کیږي نن

جوړ می ورته تړال کړو د فکرونونه
زانګي دی «سارا چی پی زنګیږی نن

ستا به یاد

زليخا شومه د مصر په کوڅو کې
ګیلی اورم د الزام په زولنو کې

د یوسف د محبت سره آشنا شوم
ګرحم ورکه یم پخپلو او پردو کې

څه به وایم حقیقت چاته معلوم دی
نامعلومه شان منزل دی په مزلو کې

په الزام د عشق اخته شوم څه به وایم
ډوبه شوي یمه ویښه په خوبو کې

نه یو لاره نه ګودر راته معلوم دی
کله غرو کې په سوچو کله ځنګلو کې

ستا د مینی سوز او ساز راته محل شو
نور جهان شومه د مینی په خیالو کې

که ستا ډیره مجبوری وي خدای دی مل شه
د «سارا» ځای شو آخر ستا قدمو کې

خولی ته مې بیا چی نن ګیلی راځي
ستا د غمونو سلسلې راځي

لکه وږمه د صبا یی چی آشنا
دا ستا له خوانه ولولی راځي

د بیلتانه ظالم له لاسه می زړه
وایی پښتو کې حوصلی راځي

دغه دستور مې زړه تنګ کړی ګله
لکه ساه خیژي او خولی راځي

دومره حسوده ستا د مینی یمه
که د رقیب پتا وږمي راځی

د «سارا» زړه یي قبلولی نه شي
که دي پر بل سترګي خوږی راځی

چې مې زړه راته تسل ستا په کتو شي
یو څو څاڅکي مې له سترګو په وتوشي
چې پیالۍ راته لبریزه شي جام جام شي
هله پوه شمه رقیب ته یار په تلوشي
بیا لمن له ستورو ډکه کم ماښام کې
تصور مې په لټون کې ستا د پلو شي
چې مې هیلې د ماشوم په شانې ترټي
ستا د غیرۍ په احساس ساه په ختو شي

د ساقي نه مې لاجام اخیستی نه وي
سور شفق داغ د «سارا» په اننګو شي

په سپېڅلي لمن هسې تهمتي شوم
اوس د شمعې په شان تته مهبتي شوم

هر اوښکه مې رڼا د حقيقت شوه
هر لمحه کې د ژوندون خوږه هستي شوم

مانه څله امتحان اخلې د مينې
ستا له پاره زه پښتو نشه مستي شوم

که دانه منې نو سترګوته مې ګوره
چې تصوير ستا راسره که د پردي شوم

ما «سارا» تالا والا د نيا دولت کړه
چې راګيره ستا دعشق په بې وسي شوم

۲۶/۱۲/۹۵

دا عجیبه ننداره ده نوم یی مینه افسانه ده
هر تیرشوی ورته یاد دی لکه سیند څپه څپه ده

* * *

په یو مخه لاروان دی پکی کرځه فلسفه ده
سرگردان به پکی گرځی لږ خندا پکی پلمه ده

* * *

په ژړا نه پوره کیږی خو سوزونو کی نغمه ده
جوړوونکي سوزوونکي هم په دا هم په دغه ده

* * *

د خندا ژړایو سر دی هم یی وسوزی آیره ده
کله یی مست اولاپروا کړي کله یی ړوند کړي پروانه ده

* * *

لیونیان یی ننداره کړي څه عجیبه زمانه ده

تل تقدیر باندی الزام کړي
د «سارا» دغه بانه ده

۲۹/۱۲/۹۵

گلابو نه سپړل کيږي د اغزيو په درشل کې
له جامونونه تويېږي د برېښنا په يوه ځل کې

ستوري ستوري را بهر شي د آسمان په شنه لمنه
حوصله چې ورسره شي لوی منزل وهی يو پل کې

هسی مست انسان روان شي د کاروان په لويه لاره
درته رابه وړی گلونه درته کيږدي په اوربل کې

بی خودي به کړي آغازه کله سوز شي کله ساز شي
د «سارا» دپاره ژوند شي ستا د مينی تاج محل کې

ستا د یادونو سلسلی راځي
په خولی د مینی ترانی راځي

چی د بیلتون سره دي شپی تیروم
ناڅاپه خولی ته می ښیری راځی

چی می د سرو سترګو تپوس وکړي څوك
ترور حالت کې څه پلمی راځی

ماته خو ستا د مینی غیږ یادیږي
غم ته بانه درد بهانی راځی

شپی می بی تا په میږتون شوی اشنا
«سارا» ورځ ورکه شوه اوس شپی راځی

ماته د مینی نه شباب راکه
لږ دی په سترګو کې شراب راکه

چی دی بانهٔ په بڼو ولګیږي
داسی سترګك باندی خوب راکه

چی د رقیب ځار نه ځان خلاص وګنم
په غلچکی نظر حساب راکه

چی په کتو کی دی نشه وده شم
شوګیرو شپوته می عذاب راکه

چی انتظار کې می دی لار ځارله
«سارا» ته لږ دیدن صواب راکه

ساقي زه مست يم په چشمان دميوو
ځكه زه غوارم شي جهان دميوو
ما د غمونو باده وخوړله
ځكه ستا عشق كړمه نادان دميوو
ګوره زما دغه جونګړه كې نن
دي راټول شوي ميتان دميو
كه يې شاهان په جام د زرو كې خوري
ماته د ستركو جام دى جام دميوو
زه د تور بخت تورى كوټى كې هميش
غوارم نشه په يو داستان دميوو
څله «سارا» ته نصيحت كوى ته
ځى په جانان پسى په شان دميوو

چی بائه راته په قهر شي انداز کې
په غزل می زلزله راشي په ساز کې

تزلزل راته د مینی په کور راشي
خپل محل وینمه ستا د سترکو نازکې

پام چی وران می دا دمینی محل نکړی
د بڼو په زمبیدو یم اعتراض کې

ژوند او مرګ می ستا د سترګو رپ کې وینم
چی غصه شئ لا ی اور خوبښ دی ګداز کې

ته چی اورشی زه لمبه لمبه د مینی
«سارا» سوز و ساز انجام شي په آغاز کې

۱۷/۹/۹۳

زړه مې غواړي لاړه شم پرواز وکم

باد شمه وږمو غوندې آواز وکم

غاړه غړې ګل سره په مينه شم

ورو ورو ترينه تاوشمه آغاز وکم

وريځ شمه باران د پسرلي شمه

ښه هوا د پاڼو منځ کې ساز وکم

ورو ورو روانيږم سمندر خواته

غږ د هر څپې سره پټ راز وکم

تيره شم ساحل نه غره ته راشمه

دغه ډيرو غرو سره څه ناز وکم

دی نه هم چاپيره ګرده وګرځم

لاره شم «سارا» بيا بل آغاز وکم

ای غره:

ستا د ښکار هوسۍ یمه
تانه سپیلنۍ یمه
مینې نه دی ځارشمه
چې بنده ستا داموکې یم -------- خوښه پدی غرو کیـیم
دغه لویه دښته ستا
د عشق لویه فضا ده
لایتنهایي ښکاري
ستا هجرته فنا ده
لاس په لاس کې راکه
ستا دمینی ترانو کې یم -------- خوښه پدی غرو کې یم
ځو به دواړه ځوبه
دی دنیا نه بل جهان ته
ورو ورو به رسیږو
له دی مینی خپل آرمان ته
لاس تر غاړی راشه
زه «سارا» ستا په نشو کې یم
خوښه په دی غرو کی یم

په دښتو په دامانو کې   د طبیعت په منظرو کې
ځما د خیال کږدی ولاړه   د سپرلي په ننداروکې
تور می بخت توره کږدی وه   لری شوی له ښادی وه
تسلیم شوی وه ازل ته   تمه داره دسیلی وه
چی به کله راروان شي   دغه باد به سرګردان شی
چی چپه د خیال کږدی شي   سترګی پټی له جهان شی

د «سارا» دغه خیالونه
همیشه پی خوری تیالرنه

څه ولیکمه نه پوهیږمه زه
د خپل قلم نه چې ویریږمه زه
څه ولیکمه چې قلم وایی
یا ولیکمه چې صنم وایي
یا ولیکمه د زړګي دردونه
که یې خوندي کمه داپټ رازونه
قلم خو وایي چې خندا ولیکه
زړګی مې وایي نه ژړا ولیکه
اوس د قلم د خولې خندا ولیکم
که د خپل زړه رضا ژړا ولیکم
کله د ګلو منځ کې ګډه شمه
کله اغزو سره همدمه شمه
کله بلبل وایي ګلزار ولیکه
کله ډیوه وایي انګار ولیکه
چې مې دا هوښکي په څپو راشي
هغه دم ماته سمندر جوړشي
حوصله وایي چه یو غر ولیکه
ځما د صبر پس منظر ولیکه
تحمل وایي لویه لمن
ته د کوچیانو په صحرا کې ګوره
په لویه دښته کې کږدۍ ولیکه
یا دمعصوم شپونکي شپیلۍ ولیکه
یا د سیرلیو د نارو سره سم
یا د پونکي هیاهوی سره سم

يا مازيگر يايي ماښام وليکه
يا د شيد و هغه ډك جام وليکه
بيايي د مينی دنياگی ته راشه
يا د جونگړی پناگی ته راشه
يايي بيلتون د تورو شپو وليکه
يايي وصال د زيارتو وليکه
يا د يو پاکی پستنی پيغلی چی
په سپيحلتوب کې تورپيکی سپينوي
راشه يو خدای او يو مين وليکه
يا د هجران خزان چمن وليکه
چی ډيوه بله شي کږدی شی رڼا
يا د شفق په بی رحمی شي صبا
بيا پت پتانه د ځنگل وليکه
يا سترگی سيل کې د يو بل وليکه
دواړوته گوره چی خندا کوي
څومره د يو بل نه حيا کوي
مينی ته يی گوره يو مين وليکه
د يو بل غم کې يی غمجن وليکه
بيلتون که راغی بيا تباه به شی
د يو بل مينه کی تباه شی
بيا نه ليدلی د «سارا» وليکه
نه لوبيدلی نه شيدا وليکه

ورغلم زندان ته دیدنو نوبار تړلی ؤ
راغلمه خپل کورته امیدونو بار تړلی ؤ

داسی می ناره کړه ای ظالمه دادی څه وکړل
وامی ورید څواب لاړو وختونو بار تړلی ؤ

کیناستمه هسی د مجبور ژوندون په سوچ کې
ځکه چی عذرونو او سوالونو بار تړلی ؤ

هغه تیر وختونه او د هیلو ډك زړګی څما
ټولی نیمخوا شوي آرمانونو بار تړلی ؤ

پلانی می په زړه باندی آرمان د یو دیدن شولو
خیال کی می شپه تیره شوه خوبونو بار تړلی ؤ

اوښکی می بهر کی د سکښي ماښام ډیوی شولی
توری شپی «سارا» شاته غمونو بار تړلی ؤ

بلچرخی ۲/۹/۶۵

PROPERTY OF ARIC Established 1989
PROPERTY OF ACKU 7032

(c) ketabton.com: The Digital Library

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library